# ادبي رپورټ

## اکبرهوتي ایډوکیټ

دَ ادبي دوستانو مرکه مردان له خوا دَ پښتو ژبې قدرمنې شاعرې محترمه سېده حسینه ګل دَ ځلورمې شعري ټولګې "له مانه مۀ بیلېږه" مخ کتنه دَ مرکې په دفتر ګجوخان روډ مردان کښې دَ ښاغلي فېض الوهاب فېض په صدارت کښې وشوه. اکبر هوتي دَ نظامت فریضه سر ته ورسوله. ښاغلیو فېض الوهاب فېض، ډاکټر محمد زبېر حسرت، ساحل یوسفزي، عبدالروف عارف، حسن خان، لعل بادشاه خیالي او وارث خان نایاب دَ شعري مجموعې په حقله منثور تاثرات وړاندې کړل. دوي ووې چې حسینه ګل دَ دې نه مخکښې هم شپون شپول، شپېلۍ،خو تۀ خبرې کوه،دا هم هغسې موسم دے چاپ دي. دا دَ پښتو خوش قسمتي ده چې شاعرانې ئې هم خپلې مسئلې په ډېر جرات سره پېش کولې شي. دوي زیاته کړه چې حسینه ګل دَ خپلې شاعرۍ په ذریعه دَ خپلې ژبې، کلچر، تاریخ، ثقافت خدمت کوي. دَ دوي نه علاوه صاحب تصنیف ته ښاغلیو مهر اندېش، ا کبر هوتي او نورالرحمان سحر منظوم عقیدت وړاندې کړو. دَ شعري مجموعې خالقې حسینه ګل په دې موقع ووې چې زۀ دَ ادبي دوستانو مرکه مردان ډېره شکریه ادا کوم چې ماله ئې درناوے راکړو. دا زمونږ فرض دي چې دَ سړو سره څنګ په څنګ دَ وطن دَ ابادۍ، خوشحالۍ او دَ خپلې ژبې، دستور، کلتور او ثقافت خدمت وکړو او دَ دې دَ پرمختګ دپاره هلې ځلې وکړو.

په اخره کښې یوه فېصله وشوه چې دَ لر او بر افغان یو یاد ادیب، شاعر، صحافي اروابناد استاذ قلندر مومند کلیزه به په ځلورمه فرورۍ ۲۰۱۰ دَ زیارت په ورځ ماسپښین ۲ بجې په مردان ټاؤن هال کښې کېږي او دې سره دا دستوره سر ته ورسېده.

## غمرازي

د ((پښتون)) اداره د عوامي نېشنل پارټۍ د ایم پي اے شګفته ملک د پلار، د ډاکټر عالم یوسفزي د پلار، د دفاع د وزیر مملکت ارباب محمد ظاهر د مور په وفات د غم درد څرګندونه کوي. د مرحومینو دپاره د لوئې الله نه د بخښانې او د وارثانو دپاره د صبر دعا کوي. آمین.